سلطان جان کلیوال ۲۰۱۹/۰۶/۰۳

# اختـــــــــره!!

اختره کلی وران دی، بل توفان سره رانشی

دروته د سرو وینو، د باران سره رانشـی

ځلوبښت کاله دی راوړله، ویرونه ځان سـره

خوښي نه درنه غواړو، خوځپګان سره را نشی

مونږ پریږده په کرار،چی سره ژاړوخپل غمونه

غرق شوی یو تاوان کی، نورتاوان سره رانشی

چی کاڼي د غضب، په «فرخندو» او«رخشانو»

ورېږی له اسـمان، داسی اسمان سـره رانشی

لوټلـی مـونږه ډیر یو، زماني په لوټمارانو

نن بیا د لوټمارانو، د کاروان سره را نشی

نور نشته دی وطن کی، قرباني ته ضرورت

چرود «پاکستان» او د«ایران» سره را نشی

ورکړی دی ولسونو، امتحان په هر میدان

قیامت پوری اختره!، بـل میدان سـره رانشی

دښمن چی ورته ښکاری، کلیوال د پلارد کلی

توبه له دی جانان، داســی جانان سره رانشی

یادونه:

که چیری ګران لوستونکی و غواری چی د دی شاعر او لیکوال نوری لیکني او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!

اختره
kliwal_s_٤٥_akhtara.pdf